فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتٰىهُ اٰتِنَا غَدَآءَنَا ؕ لَقَدْ

دا یے روان شو لکه چه مخے ته ئے سُرنګ وی۔ وړاندې چه لاړل موسیٰ خپل غلام ته ووئیل "راوړه زمونږ ناشته، زنی

په تفصیلاتو باندې غور کوؤ نو دوه خبرے صفا په ذهن کښے راځی. یوه دا چه دا حالات په حضرت موسیٰ ته هغه د نبوت په اولنو ورځو کښے بنودلے شوی وی، ځکه چه د نبوت په اولنو ورځو کښے پیغمبرانو ته د دے قسمه تعلیم او تربیت ضرور وی. دویمه دا چه حضرت موسیٰ ته به د دے حالاتو د ښودلو ضرورت په هغه زمانه کښے پیښ شوے وی په کومه زمانه کښے چه په بنی اسرائیلو باندې هم هغسے حالات راغلی وُو لکه څنګه چه په مکه معظمه کښے په مسلمانانو باندې راغلی وُو. د دے دواړو خبرو په وجه زمونږ قیاس دا دے (او اصلی علم الله له دے) چه د دے قیصے تعلق د هغه زمانے سره دے چه په مصر کښے لا په بنی اسرائیلو باندې د فرعون ظلمونه جاری وُو او په عذاب کښے د تاخیر په وجه د قریشو سردارانو پشان د فرعون او د هغه د دربار یانو هم دا خیال وُو چه د هغوئی نه د تپوس کولو هیڅوک نشته، او د مکے د مظلومانو مسلمانانو پشان د مصر مظلومانو مسلمانانو هم په بے قرارۍ سره دا تپوس کولو چه اے خدایه، په دے ظالمانو باندې به د انعامونو باران او په مونږ باندې به د مصیبتونو باران تر کومه پورے وی؟ آن تر دے پورے چه بخپله حضرت موسیٰؑ دا ووئیل وُو چه رَبَّنَآ اِنَّكَ اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً وَّاَمْوَالًا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ رَبَّنَا لِيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِكَ "اے پروردګاره، تا فرعون او د هغه درباریانو له د دُنیا په ژوند کښے لوئ شان و شوکت او مال و دولت ورکړے دے، اے پروردګاره، دا د دے د پاره چه هغه د دُنیا خلق ستا د لارے نه بے لارے کړی؟" (تفهیم القرآن جلد دویم صفحه ۳۰۸)۔

که چرے زمونږه دا قیاس صحیح وی نو بیا ګمان کیدے شی چه د حضرت موسیٰ دا سفر غالبًا چه د سوډان طرف ته وُو او د مجمع البحرین نه مراد هغه مقام دے په کوم ځائے کښے چه د موجوده ښار خرطوم خواته د دریائے نیل دوه شاخونه البحر الابیض او البحر الازرق یو ځائے کیږی (وګوره نقشه نمبرا صفحه ۳۲) حضرت موسیٰ چه خپل ټول ژوند په کومو علاقو کښے تیر کړے دے په هغے کښے د دے یو ځائے نه علاوه بل هیچرته مجمع البحرین نشته۔

بائیبل د دے واقعے په حقله بالکل خاموش دے. البته په تلمود کښے د دے ذکر شته، خو هغه دا واقعه حضرت موسیٰ په ځائے د ربی یهوحانان بن لاوی سره تړی او وائی چه د دے سره دا واقعه د حضرت الیاس په مکرتیا کښے راغلی وه چه هغه د دُنیا نه ژوندے پورته کړے شوے دے او په فرښتو کښے شامل کړے شوے دے او د دُنیا په انتظام باندې مامور دے.

مکنه ده چه دا واقعه هم د خروج نه د مخکینو واقعو پشان په بنی اسرائیلو کښے په خپل صحیح شکل کښے محفوظ نه وی پاتے شوی او په سوونو کالو روستو هغوی د قیصے کړۍ د یو ځائے نه د بل ځائے سره نکولی وی. په مسلمانانو کښے ځینی خلقو د تلمود د دے روایت نه اثر قبول کړے دے او وئیلی ئے دی چه په قرآن کښے

رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾ فَكُلِي وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا ۖ فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ
أَحَدًا فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا ﴿٢٦﴾
فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُ ۖ قَالُوا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾
يَا أُخْتَ هَارُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾

کجُورے را اُوغورزیږی. بس ته خوره او څکه او خپلے سترګے یخے کړه. بیا که چرے څوک سړے تا ته په نظر راشی نو هغهٔ ته اُووایه چه ما د رحمٰن د پاره د روژے نذر منلے دے، نو زهٔ به نن د چا سره خبرے[۱۵] نهٔ کوم"۔

بیا هغے خپل بچے راغستے وو او خپل قوم ته راغله. خلقو اُووے "اے مریم، دا تا خو ډیره[۱۶] آشنا او بے ځایه کار اوکړو. اے د هارون خور، نه ستا پلار یو سړے بد سړے وو او نه ستا مور څه بد کاره ښځه[۱۷] وه"؟

د ځاوند نه وے نو بیا ولے د مونږ کورته یا د سفر کورته نه تلله او ولے بچی د پیدا کید و د پاره اِکی پوازے یو لرے ځائے ته تلله۔

[۱۷] د دے الفاظو نه دا اندازه لګیدے شی چه حضرت مریم په هغه وخت کښے څومره پریشانه وه. د مارکے موقع ته چه سړے اوګوری نو ښکاره پرے پوهیږی چه د هغے د خولے نه دا الفاظ د دردونو د تکلیف د وجه نه نهٔ وو وتلی، بلکه د هغے سره دا فکر وو چه الله تعالیٰ په کوم خطرناک آزمیښت کښے هغهٔ اچولی ده چه هغه به څنګه په خیریت سره پوره شی. حمل خو ئے په څه طریقه د اُوسه پورے پټ کړو. اُوس دا بچے کوم خوا ته وبیسی. د دے روستنیٔ فقرے نه چه فرښتے ورته اُووے چه "غم مهٔ کوه" دا معلومیږی چه حضرت مریم دا الفاظ ولے وئیلی وو. د واده شوی جینئ چه کله اولنے بچے کیږی نو که د دردونو تکلیف ورته هر څومره وی، خو غم او پریشانی یے ورسره هیڅکله نه وی۔

[۱۸] مطلب دا دے چه د بچی په معامله کښے تا ته د ونیا ضرورت نشته. د هغهٔ په پیدا کید و چه څوک اعتراض کوی د هغے جواب ورکول اُوس زمونږ ذمه دے. (په بنی اسرائیلو کښے د خاموشئ د روژے نیولو عام رواج وو). د دے الفاظو نه هم دا خبره صفا معلومیږی چه د حضرت مریم اصلی پریشانی څه وه. دا رنګے دا خبره هم د غور کولو قابل ده چه د واده شوی جینئ اولنے بچے که چرے د دنیا د عام طریقے مطابق پیدا کیږی نو آخر څه ضرورت دے چه هغه د خاموشئ روژه نیسی؟

[۱۹] د دے الفاظو دوه مطلبونه کیدے شی. یو دا چه د دے ظاهری معنیٰ واغستلے شی یعنی چه هارون نومے یو سړے د حضرت مریم رورو وی. دویم دا چه د عربئ ژبے مطابق د اُخت هارون معنیٰ "د هارون د خاندان جینئ" واغستلے شی، ځکه چه په عربئ ژبه کښے عام طور دا سے وئیلے کیږی. مثلاً د مُضر قبیلے سړی ته "یا اخا مُضر" (اے د مضر روره) وئیلے کیږی او د همدان قبیلے سړی

لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ۚ وَعَصٰٓى
اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى ﴿۱۲۱﴾ ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدٰى ﴿۱۲۲﴾ قَالَ

دَ پردے ځایونہ یو بل تہ ښکارہ شو او دواړو خپل ځانونہ دَ جنت پہ پاڼو پټول شروع کړل[۱۰۰] آدم دَ خپل
رب نافرمانی اُوکړہ او دَ نیغې لارے نہ بے لارے شو[۱۰۱] بیا دَ هغہ رب هغہ غورہ کړو[۱۰۲] او دَ هغہ توبہ ئے
قبولہ کړہ او هغہ تہ ئے هدایت اُوکړو[۱۰۳] او وے فرمائیل تاسو دواړہ (دلتہ)، یعنی انسان او

[۱۰۱] یعنی دَ نافرمانۍ کولو سرہ تر هغہ نعمتونو وا خستلے شو کوم چہ سرکاری طور هغوی تہ ملاؤ وُو، او دَ
تہ لہ لاول تہ کیدہ وا غستہ شی چہ اک، اُوبہ او دَ اُوسیدو ځائے ئے ترلاسہ کړا غستلے کیدو او پټیدو

وَأَنَّهُ يُحْيِ الْمَوْتَىٰ وَأَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٦﴾ وَأَنَّ السَّاعَةَ
آتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَن فِي الْقُبُورِ ﴿٧﴾

او هغه مړي ژوندي کوي، او هغه په هر څيز باندې قادر دے، او دا (د دے خبرې دليل دے) چه قيامت به خامخا راځي، په دې کښې هيڅ شک نشته، او الله به ضرور هغه خلق راژوندي کوي کوم چه قبرونو ته تللي دي۔ ۹

۹ په دے آيتونو کښې د انسان د پيدائش، د مختلفو مرحلو، په زمکه باندې د باران اثرات او د بوټو د راټوکېدو په باره کښې داسې دليلونه دي چه پنځه حقيقتونه ترې ظاهرېږي:

(۱) دا چه الله حق دے۔

(۲) دا چه هغه مړي ژوندي کوي۔

(۳) دا چه هغه په هر څيز باندې قادر دے۔

(۴) دا چه قيامت به خامخا راځي، او

(۵) دا چه الله به ضرور هغه خلق راژوندي کوي کوم چه مړه شوي دي۔

اوس اوگورئ چه د دے نه دا پنځه حقيقتونه څنګه ظاهرېږي۔

چه سړے د تخليق د انسان نظام ته اوگوري او په خپل پېدائش باندې غور اوکړي نو دا حقيقت به ورته معلوم شي چه په هر انسان کښې د الله تعالیٰ حقيقي تدبير هر وخت کار کوي او د هر انسان د پيدا کېدو او د هغه د ودې يوه يوه مرحله د الله تعالیٰ د فېصلې مطابق کېږي۔ ځکه چه دا تول هر څه د يو بل قانون لاندې کېږي۔ ليکن که هغه ته ښه اوگورئ نو معلومه به شي چه انسان په څه طريقه د مور په خېټه کښې قرار موندي او بيا په څه طريقه په هغه مختلفو مرحلو تېرېږي نو په دے کښې د الله تعالیٰ اراده او پوره پوره حکمت سره کار کوي۔ انسان چه کوم څيزونه خوري په هغې کښې انساني تخم هيچرې موجود نه وي، نه په کښې دا سے څيزونه موجود وي چه د هغې نه انساني خاصيتونه پيدا کېږي۔ دا خوراک چه د انسان بدن ته لاړ شو نو هلته ترې وينه جوړه شي، سخه ترې هډوکي جوړ شي او غوښه ترې جوړه شي، او بيا په يو خاص مقام ترې هغه نطفه جوړه شي چه په هغې کښې د انسان د جوړېدو تخم موجود وي۔ په دې نطفه کښې د اتقونو دومره ډېروي چه په يو وخت کښې يو سړي د څومره نطفه خارجېږي په هغې کښې په کروړونو د نسلونو تخمونه موجود وي او هر يو تخم دا صلاحيت لري چه کله د ښځې د نطفې سره ملاؤ شي نو انسان ترې جوړ به شي۔ ليکن دا د حکيم او د قادر فېصله ده چه هغه د دے بې شماره انساني تخمونو نه يو تخم د يو خاص وخت کښې د ښځې د نطفې سره د ملاوېدو موقع ورکوي او هغه د مور په خېټه کښې قرار موندي۔ بيا د قرار موندلو په وخت کښې د سړي او د ښځې د نطفې د کوم څيزونو اول کښې جوړېږي هغه دومره وړوکي وي چه د خوردبين نه بغير يو نظر نه راځي۔ دا وړوکے شان څيز نهه مياشتې او يو څو ورځې د مور

مُّكْرِمٍ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ ۩ ﴿۱۸﴾ هَٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي
رَبِّهِمْ ۖ فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ يُصَبُّ مِن

عزت ورکوونکی څوک نشته، ۳۴ الله کوي هغه څه چه غواړي ۳۵۔

دا دوه ډلې دي چه د دوی په منځ کښې د خپل رب په حقله جګړه ده ۳۶۔ په دوی کښې چه کوم خلقو کفر اوکړو لو د هغوی د پاره د اور جامې پرېکړې شوی دی، د هغوی په سرونو باندې به

لیکن په څوک سترګې لري هغه دا هم لیدے شي چه په حقه څوک دے او آخری فیصله د چا په حق کښې کېدونکې ده۔ د کائناتو ټول نظام په دے خبره ګواه دے چه د زمکې نه د آسمانونو پورے د یو خدائے خدائی چلیږي. د زمکې د یوے ذرے نه را واخله د آسمان د لویو لویو سیارو پورے ټول څیزونه د یو قانون پابند دی او یو څیز تر هم د ویښته هومره نافرمانی نه شي کولے۔ مومن خو خیر د زړه نه د الله حکم مني، لیکن هغه دهریه چه د الله د وجود نه انکار کوي او هغه مشرک چه بے اختیاره هستۍ ته سر ټیټوي هغوي هم د الله په حکم منلو کښې هغسې مجبور دی لکه څنګه چه هوا او اوبه مجبورې دي۔ د یوے فرښتے سره یا د یو پیری سره یا د یو نبی ولی سره یا د یوے دیوتې یا دیوکنړے او دیوتا سره د خدائی په صفتونو او اختیاراتو کښې یو صفت او اختیار هم نشته چه د هغې په وجه ورله سړے د خدائی او د معبودیت مقام ورکړي، یا ئے د خدائے سره برابر اوګڼي۔ یو بے حاکمه قانون او یو بے صانعه فطرت او یو بے ناظمه نظام داکوم نه شي چه دومره لوئے کائنات په وجود کښې راولي او دنیا دے څنګه په باقاعدګۍ سره چلوي او تقدیر او د حکمت نه ډکې دانه کارنامې ښکاره وي چه هغه په کائناتو کښې هر طرفته په نظر راځي۔ د سړي مخے ته چه د کائناتو دا غوړیدلے کتاب موجود دے او بیا هم د پیغمبرانو خبرے نه مني او د خود ساخته عقیدو په بنیاد د خدائے په باره کښې جګړه کوي نو هغه دا هم معلومه په باطله ده لکه څنګه چه به د قیامت په ورځ په باطله ثابتیږي۔

۳۴ دلته د ذلت نه مراد د حق نه انکار کول دي او د عزت نه مراد د حق پیروی کول دي، څکه چه د حق نه د انکار کولو لازمي نتیجه ذلت دے او د حق د پیروی کولو لازمي نتیجه عزت دے۔ څوک چه صفا او څرګنده حقیقتونو ته په غړیدلو سترګو اونه ګوري او د یو څه سړي خبرے هم وا نه وري نو هغه ذلت پخپله په خپل ځان راولي، او الله هم هغه څیز د هغه په نصیب کښې لیکي کوم چه هغه پخپله غوښتلے او کله چه الله هغه له د حق د پیروی کولو عزت ورنه کړو نو بیا څوک دي چه عزت به ورکړي۔

۳۵ دلته د تلاوت سجده واجبه ده، او د سورة حج دا سجده متفق علیه ده چه په سجدهٔ تلاوت کښې حکمت او د دے څه حکم دے، د دے د پاره اوګورئ تفهیم القرآن دوم جلد، الاعراف، حاشیه ۱۵۷۔

۳۶ د هغه شپږ باندے کښې ویري د څه جګړې کوي خو بیا هم هغه ټول د بشر په دوو ډلو کښې تقسیم کړے شوی دی، یو هغه ډله ده چه د پیغمبرانو خبره مني او د خدائے صحیح بندګي کوي۔ دویمه

حرم کښې برابر حقونه حاصلېدل دي.

بیا دا چه وائي چه دا مساوات یوازې په عبادت او په تعظیم او په حرمت کښې نه دې، بلکه د مکې په حرم کښې د ټولو حقونو په اعتبار سره دي. د حرم زمکه د خدای د طرفه عام وقف زمکه ده لهٰذا په دې زمکه باندې او په دې عمارتونو باندې د چا د ملکیت حق نشته دی. هر سړی په هر ځای کښې د مکې کولې شي یعنې قیام کولې شي. هیڅوک ئې منع کولې نه شي او نه ناست سړی څوک پاسولې شي. د دې په ثبوت کښې دا خلق ډېر احادیث او ډېر آثار پیش کوي مثلاً،

د عبدالله بن عمرو روایت دی چه نبي صلی الله علیه وسلم اُوفرمائیل "مکة مناخٌ لا تباع رباعها ولا تؤاجر بیوتها" "مکه د مسافرو د راتلو ځای دی، نه د دې زمکه خرڅولې کېږي او نه د دې مکانونه په کرایه ورکولې کېږي."

د ابراهیم نخعي مرسل روایت دی چه نبي اُوفرمائیل "مکة حرمها الله لا یحل بیع رباعها ولا اجارة بیوتها" "د مکې نه الله تعالیٰ حرم جوړ کړې دې، د دې زمکه خرڅول او د دې د مکانونو کرایه اخستل حلال نه دي." (دا خو تاسو ته معلومه وي چه د ابراهیم نخعي مُرسلات حدیث د مرفوع په حکم کښې دي، ځکه چه د هغه دا قاعده مشهوره ده چه کله هغه مرسل روایت کوي نو په اصل کښې هغه د عبدالله بن مسعودؓ په واسطه سره روایت کوي). مجاهد هم تقریباً په دې الفاظو سره یو روایت نقل کړې دې.

د علقمه بن نضله نه روایت دی چه "د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د ابوبکر او د عمر او د عثمان رضي الله عنهم په زمانه کښې به د مکې زمکه سوائب (یعنې شاملات زمکه) گڼلې شوه، چه د چا به ضرورت ؤ هغه به سیده وه په کښې اوسېدو او چه ضرورت به ئې نه ؤ نو بل به ئې پکښې اوسېدو."

د عبدالله بن عمر روایت دی چه حضرت عمرؓ حکم کړې ؤ چه د حج په زمانه کښې د مکې د کورونو دروازې بندې نه شي، بلکه د مجاهد روایت خو دا دی چه حضرت عمرؓ د مکې والو ته حکم کړې ؤ چه د خپلو کورونو صحن یعنې انگړونه مه بندوئ او هغوی ته ئې په کورونو باندې دروازې لگولو نه منع کړې وو د پاره د دې چه مسافر په کوم ځای کښې دېره کول غواړي هلته دېره کړي. هم دا روایت د عطاء دی او هغه وائي چه صرف سهیل بن عمرو ته حضرت عمرؓ په صحن باندې دروازه لگولو اجازت ورکړې وو ځکه چه هغه به تجارت کولو، نو خپل اوښان به ئې هلته بندول.

د عبدالله بن عمر قول دی چه څوک د مکې د مکانونو کرایه اخلي هغه خپله خېټه د اور نه ډکوي.

د عبدالله بن عباس قول دی چه الله تعالیٰ د مکې ټول حرم د جومات جوړ کړې دې او هلته د ټولو حقوقو برابر دي. مکې والو ته دا حق نه دې حاصل چه د بهر نه مسافرو نه کرایه اخلي.

د مکې امیر ته د عمر بن عبدالعزیز حکم چه د مکې د مکانونو کرایه مه اخله ځکه چه دا حرامه ده.

د دې روایتونو په وجه زیات تابعین دې طرف ته تللي دي، او په فقهاؤ کښې د امام مالک، د امام ابوحنیفه، د سفیان ثوري، د امام احمد بن حنبل او د اسحاق بن راهویه هم دا رائې ده چه د مکې د زمکې خرڅول، او خو په موسم کښې د مکې د مکانونو کرایه جائز نه ده. البته ډېر فقهاؤ د مکې په مکانونو باندې د خلقو ملکیت تسلیم کړې دې او د هغې د مکان خرڅول ئې جائز گرځولي دي نه چه د زمکې خرڅول.

أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ۝٦ فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ ۝٧

په قبضه کښې وی ځکه چه په هغوی باندې (په محفوظ نه ساتلو کښې) هغوی ملامته نه دی، البته څوک
چه د هغې نه علاوه نور څه اوغواړی نو هغوی زیاتی کوونکی دی ګنړه

شو دا یکښے په مینځ کښے جمله معترضه ده. دا هغه غلط فهمی لرے کوی کومه چه "د شرمګاهونو د حفاظت
د لفظ نه پیدا کیدی. په دُنیا کښے څنګه هم خلقو دا کنړله اوس هم ډیر خلق په دے غلط فهمی کښے مبتلا دی چه
شهوتی قوت ګنی بوخراب څیز دے او د دے تقاضے پوره کول اګرکه په جائزه طریقه وی، خو بهرحال د نیکو خلقو
او د الله والو د پاره مناسب نه دی. دا غلط فهمی به نوره هم مضبوطه شوی وه که چرے صرف دومره خبره شوی وه
چه کامیاب مؤمنان خپل شرمګاهونه محفوظ ساتی. ځکه چه د دے نه دا مطلب اخستلے کیدے شو چه هغوی د
راهبانو پشان خلق وی د واده د خبرو سره څه کار نه لری. نو په دے وجه د حقیقت واضحه کولو د پاره په منځ
کښے یو جمله معترضه او ویئلے شوه چه په جائز مقام کښے خپل خواهش پوره کول څه د ملامتیا خبره نه ده،
البته دا ګناه ده چه سړے د خپل شهوت پوره کولو د پاره د دے جائز ځائے نه علاوه څه بل ځائے تلاش کوی.
د دے جمله معترضه نه یو څو حکمونه را اوځی چه هغه موږ دلته مختصر بیانوو.

(۱) "د شرمګاهونو د حفاظت" حکم عام دے، د دے عام حکم نه دوه قسمه زنانه بیلے کړے شوے. یو "ازواج"
بل "مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ". "ازواج" د عربی ژبے د عام استعمال مطابق هم او د قرآن د بیانانو مطابق
هم صرف د هغه زنانو د پاره استعمالیږی چه د هغوی سره با قاعده نکاح شوی وی چه په اُردو کښے ورته
"بیوی" او په پښتو ژبه کښے ورته "ښځه" وائی. پاتے شو لفظ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ، نو د عربی ژبے او د قرآن
د استعمال مطابق دا وینځے ته وائی یعنی هغه زنانه چه هغه د سړی په ملک کښے وی. د هغه شان د دے آیت نه دا
صفا معلومیږی چه د نکاح شوی ښځے پشان د وینځے سره هم جنسی تعلق جائز دے، او د دے د جواز بنیاد نکاح
نه ده بلکه ملک دے. که چرے د دے د پاره هم نکاح شرط وے نو بیا د دے د ازواج نه جُدا بیانولو هیڅ ضرورت
نه وو ځکه چه د نکاح په صورت کښے دا هم په ازواج کښے داخله ده. دن زمانے هغه مفسرین چه د وینځے سره
د کورولی د جائز ګنړلو نه انکار کوی، هغوی د دلیل په طور د سورة نساء دا آیت "وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ
مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ (آیت ۵) پیش کوی او د دے خبری د ثابتولو کوشش
کوی چه د وینځے سره کوروالے کول صرف نکاح په ذریعه کیدے شی، ځکه چه هلته دا حکم شوے دے
چه که چرے تاسو د مالی حالت د کمزورئی په وجه د آزاد خاندانی زنانه سره واده نه شئ کولے نو د
وینځے سره نکاح اوکړئ. لیکن د دے خلقو دا عجیبه کار دے چه د یو آیت کومه حصه د دوی د مطلب مطابق
وی نو هغه را اخلی، او د آیت کومه حصه چه د دوی د مطلب خلاف وی نو هغه قصدًا پریږدی. په دے
آیت کښے چه د وینځو سره د نکاح کولو هدایت په کومو الفاظو سره شوے دے هغه الفاظ دا دی: فَانْكِحُوْهُنَّ
بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ، "پس د هغه (وینځو) سره نکاح اوکړئ د هغوی
سرپرستانو په اجازت سره او هغوی ته په معروف طریقه د هغوی مهرونه ورکړئ". د دے الفاظو نه

فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ ﴿۱۴﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ ﴿۱۵﴾
ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ ﴿۱۶﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ
وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ﴿۱۷﴾ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَاَسْكَنّٰهُ

پس ډېر برکت والا دے الله،[۱۳] د ټولو کاریګرانو نه ښه کاریګر۔ بیا د دے نه روستو به تاسو ضرور مرئ،
بیا به د قیامت په ورځ یقیناً چه تاسو راپاسولے کیږئ۔
او ستاسو د پاسه مونږه اُوه لارے جوړے کړے[۱۵] د پیدا کولو د کار نه مونږه څه نابلده نه وُو۔[۱۶]
او د آسمان نه مو ټیک د حساب مطابق په یو خاص مقدار کښے اُوبه نازلے کړے او هغه مو په زمکه کښے

او بل طرف ته د بخیل اُوګوری چه پخوس شپیته کاله وړاندے کله چه د مور په ګیډه کښے د نطفے په شکل کښے وو نو له هغه نه

نو په ده کښے دا هر څه موجود وو، نو بیا اختیاره ئے د خولے نه دا اُوزی چه فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ۔

[۱۳] په اصل کښے الفاظ دی فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ چه پوره معنیٰ کولے په ترجمه کښے مشکل دی۔ د لغت او د استعمال
په لحاظ سره په دے کښے دوه مطلبونه شامل دی۔ یو دا چه هغه ډیر مقدس او پاک دے۔ بل دا چه هغه ډیر د
خیر او د خوبئ مالک دے چه څومره ئے د هغه اندازه لګوے نو هغه نه هغه زیات بیا موئے۔ ان تر دے چه په
هغه د نیکیو سلسله هیڅ چرے ختمه نشی۔ (د زیاتے تشریح د پاره اُوګورئ تفهیم القرآن، دریم جلد،
الفرقان، حاشیے ۱ او ۱۹)۔ په دے دواړو معنو چه سړے غور اُوکړی نو دا جمله په ځائے کښے راځی چه
انسان په کومو درجو کښے جوړیږی د هغه د بیان کولو نه روستو فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ ویل هسے د تعریف یوه کلمه نه بلکه
دا د دلیل نه روستو د دلیل نتیجه هم ده۔ ګویا چه په دے کښے دا ویلے کیږی چه کوم خدائے ته د خاورے ست د ترقئ ورکړی
او کوم انسان ورته تر دے اُورسوی هغه د دے نه په څو درجے زیات پاک دے چه په خدائی کښے د هغه
سره څوک شریک شی او کمه نه په څو درجے بالا تر دے چه د هغه انسان د بیا نه شی پیدا کولے، او د هغه د
خورے والی دا ډیره کمه اندازه ده چه بس په یو ځل د انسان جوړولو سره د هغه کمالات ختم شی، او د بیا
نو هغه نه شی جوړ ولے۔

[۱۵] په اصل کښے لفظ طرائق استعمال شوے دے چه معنیٰ ئے "لارے" هم دی او "طبقے" هم۔ که چرے او معنیٰ
واخستلے شی نو غالباً چه د دے نه مراد د اُوو ستورو د ګرځیدو لارے دی، او چونکه د هغه زمانے انسان د اُوو ستورو
نه واقف وو نو ځکه د اُوو لارو ذکر اُوکړے شو۔ بهرحال د دے هم مطلب نه دے چه د دے نه علاوه نورے لارے نشته
او که دویمه معنیٰ واخستلے شی نو د سَبْعَ طَرَآئِقَ به هم هغه مطلب وی کوم چه د سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا (اُوه
آسمانونه طبقے طبقے) مطلب دے۔ او دا چه ئے فرمائیلی دی چه "ستاسو د پاسه" مونږ اُوه لارے جوړے کړے نو د دے
خو یو سیده ساده مطلب هغه دے کوم چه د ظاهری الفاظو نه په ذهن کښے راځی، او دویم مطلب ئے دا دے چه
ستاسو نه هم زیات لوئے څیز مونږه دا آسمانونه جوړ کړی دی، لکه چه په یو بل ځائے کښے فرمائی: لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ۔ "د آسمانونو او د زمکے پیدا کول د انسانانو پیدا کولو نه زیات لوئے

مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِیْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِیْنَ ﴿۲۴﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلٌۢ بِهٖ جِنَّةٌ
فَتَرَبَّصُوْا بِهٖ حَتّٰی حِیْنٍ ﴿۲۵﴾ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِیْ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿۲۶﴾ فَاَوْحَیْنَآ
اِلَیْهِ اَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْیُنِنَا وَوَحْیِنَا فَاِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ

دا خبره خو مونږ ده د خپل پلار نیکه په وختونو کښې هم واورېدلې نه ده (چه د بشر نه پیغمبر جوړېږي)۔ هیڅ نه دی، بس په دې سړي لږ شان لیونتوب راغلے دے۔ څه لږه موده ورته نور انتظار اُوکړئ (شاید چه خلاص شي)۔" نوحؑ اُووے "اے ربه، دے خلقو چه ما ته دروغژن وئيلي دي نو په دې باندې اُوس ته زما مدد اُوکړه۔" مونږ ورته وحی اُوکړه چه "زمونږ په نګرانئ کښې او زمونږ د وحی مطابق کښتئ تیاره کړه۔ بیا چه کله زمونږ حکم راشي او تنور را اُوخوټېږي[۲۹] نو

دوه مره فرق دی چه یو هوښیار سړے د هغه ادراک نه اکثر په یوه وار کښې هیڅ غلطي نه شي کولے۔

[۲۷] الفه دا دوه خبرې ښکاره ثبوت دے چه د نوحؑ قوم د الله تعالیٰ نه منکر نه وو او نه د دې خبرې نه منکر وو چه رب العالمین هم هغه دے او ټولې فرښتې د هغه فرمان منونکي دي۔ د دے قوم اصل ګمراهي شرک وه نه چه د خدائے نه انکار۔ هغوی به د خدائے په صفتونو او اختیاراتو او حقونو کښې بل څوک د هغه سره شریکول۔

[۲۸] یعنی زما د طرف نه د هغوی نه د دې دروغو بدلو به ته واخله۔ لکه چه په بل ځائے کښې فرمائي: فَدَعَا رَبَّهٗٓ اَنِّیْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ "پس نوحؑ خپل رب ته آواز اُوکړو چه زه د باؤ کړے شوے یم، اُوس ته د دوی نه بدله واخله" (القمر آیت ۱۰)۔ او په سورۃ نوح کښې فرمائي: وَقَالَ نُوْحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَی الْاَرْضِ مِنَ الْکٰفِرِیْنَ دَیَّارًا ○ اِنَّكَ اِنْ تَذَرْهُمْ یُضِلُّوْا عِبَادَكَ وَلَا یَلِدُوْٓا اِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ـ "او نوحؑ اُووے، اے زما ربه په دې زمکه باندې د کافرانو نه یو هم مه پرېږده، که ته هغوی پرېږدې نو دوی به ستا بندګان ګمراه کوي او د هغوی د نسل نه به بدکاره حق منکره خلق راپیدا کېږي" (آیت ۲۶)۔

[۲۹] څینو خلقو د تنور نه مراد زمکه اخستې ده، څینو ترې د زمکې اُوچته حصه مراد اخستې ده، څینې وائي چه د فَارَ التَّنُّوْرُ مطلب صبا ختل دی، او څینو په دې رائے کښې دا د "حمی الوطیس" په شان یوه استعاره ده "د شور او غوغا ګرمېدلو" په معنیٰ کښې۔ لیکن هیڅ مناسب وجه په نظر نه راځي چه سړے بغیر د څه قرینې نه د قرآن د الفاظو مجازي معنیٰ کوي هر کله چه د ظاهري مطلب اخستلو څه قباحت (بد والے) نه وي، د دې الفاظو په وینا سره چه کوم مطلب اول د سړي په ذهن کښې راځي هغه دا دے چه یو خاص تنور د ځکښې نه مقرر کړے شوے وو چه د هغې د لاندې نه اُوبه راخوټېږي او طوفان به شروع کېږي۔ د دویمې معنیٰ کولو ضرورت په هغه وخت کښې پېښېږي کله چه سړے دې خبرې منلو ته تیار نه وي چه دومره لوئ طوفان به د یو تنور د لاندې د اوبو په راخوټېدو سره شروع شوے وي۔ لیکن د خدائے معاملې څه عجیبه شان دي۔ هغه چه په یو قوم آفت راولي نو د داسې طرف نه ئے راولي چه هغه هر وړه سړي په وهم ګمان کښې نه راځي

